***ټولو وطنوالو ته دنوی کال دراتګ په مناسبت دزړه له کومی مبارک وایم اوهیله لرم چی په دی نوی راتلونکی کال کی نور زمونږ وطنوال د توپک غږ وانوری په خوښی او خوشحالی سره ژوند وکړي .***

---------------------------------------------

## دنوروز په مناسبت

*شبو ګل په ننګرها ر شا ړی دښت ټول لاله زار*
*بیا موسم د پسرلي شو باغ او بڼ ټول ګلزار*
*بیا با نونه شو زرغون ، اوبو ډیر شو په جیحون*
*دغاټولو غا لین فرش شو په ګڼ د ښتو د مزار*
*ونو واغوستل جا می ، بلبل ساز کړ خوږ نغمی*
*خوږ نسیم په چلیدو شو ، غږ شو پورته د آبشا ر*
*واوری ویلی شو په غرونه په اوبوډک شوسیندونه*
*شبنم وورید په ګل پا نو نا رنج ګل په ننګرها ر*
*ډلی ډلی ښکلو پیغلو د ګودر په خوا روان شو*
*ما زدیګر ګودر په غا ړه د منګیو جوړ قطا ر*
*د باغونو په فضا کی الوتنی د بلبلو*
*آوازونه د مرغا نو یخ سا یه د لوړ چنا ر*
*د وطن پسرلیه مل د سولی سره راشه*
*چی افغا ن وکړی ژوند ستا په هرلورواوکنا ر*
*د پغمان په میلو کی افغا نا نو جوړ میلی کړی*
*په وربل ارغوان کیږدی پیغلی ټول دچاریکار*
*ځما د(مل) آرمان پوره شی سوله زرراښکاره شي*
*چي هیڅ و نه وینم بیا کرغیړن مخ د اشرار*

***جرمنی « 21-03-2019 » یا **دنوی کال لمړئ ورځ*****